## مالي او اداري چارو مرستيال وزير مسعودالله اورياخيل وزير لنډ ژوندليک

ښاغلی مسعودالله اورياخيل د ۱۳۶۴ هجري شمسي کال د سلواغې په يوولسمه نيټه د کابل په ښار کې نړۍ ته سترګې غړولي.

ښاغلی اورياخيل په اوومه هجري لسيزه کې پاکستان هيواد د هجرت په تکل رهي شو او د پيښور ښار په بی بی هاجرې ليسه کې يې لمړنۍ او د حديبيې په ليسه کې ثانوي زده کړې ترسره کړې.

ښاغلی مسعودالله اورياخيل په بيلابيلو ډګرونو کې په ځانګرې ډول اداره، سوداګری يا تجارت، انګليسي ژبه او کمپوټر په برخه کې پراخې زده کړې سرته رسولي. ښاغلی اورياخيل په ۲۰۰۶ ميلادي کال د کاردان په پوهنتون کې د ادارې او تجارت (BBA) په برخه کې زده کړې پيل او په ۲۰۱۰ ميلادي کال کې يې په برياليتوب سره خپل ليسانس ترلاسه کړ.

ښاغلی اورياخيل په ۲۰۱۴ ميلادي کال د افغانستان له امريکايي پوهنتون څخه د ماسټرۍ سند ترلاسه کړ.

هغه په ډېرو دولتي، غيردولتي او بهرنيو مؤسسو لکه UNDP سره کار کړي دی او په ۱۳۹۱ کال کې د کار او ټولنيزو چارو په وزارت کې د کار تدقيق آمر په توګه دنده پيل کړه او له لږ ځنډ وروسته د تهيې او تدارکاتو سرپرست په توګه وګمارل شو. هغه وروسته آزادي سيالی د رتب او معاشاتو په آزموينه او د سي بې آر آزموينې کې له بريا څخه وروسته د همدې رياست رسمي رييس په توګه دنده پيل کړه او تر اوو کالو يې ياده دنده په بريا پرمخ يوړه.

په وروستيو کې د کار او ټولنيزو چارو مشرتابه په وړانديز؛ ښاغلی مسعودالله اورياخيل د کار او ټولنيزو چارو مالي او اداري مرستيال وزير په توګه وګمارل او په همدې مقام کې اوس مهال دنده ترسره کوي.